(c) ketabton.com: The Digital Library



طوطه کان
28.12.1999

وریَځې لیمه زُلفی بانه چېرمه
ځمه ورځمه پښتانهٔ چېرمه
پریږدئ کهٔ خلق راته هر څه وائی
نن دې یادونه میلمانهٔ چېرمه
ته دې د ژمی په نمر مهٔ نازېږه
زهٔ لا د خپل اُوړی غرمه چېرمه
ویمه کهٔ چرته پکښې لاره اُوځی
خپل اسویلی ساړهٔ ساړهٔ چېرمه
الیاسؔ ترې د یار په نوم نغمې جوړوم
بیامې تارونه نن د زړهٔ چېرمه

## یو شعر

چا پېرچل مې په پوښتنه د جانان شو
خاموشی مې تذکرې د مینې اوکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې د تلو لوړې ژورې وې
یو مې د پښو تنها کې سترې وې
بل خواشلېدلې مې چپرې وې

ګنې ماوې چې مخکښې څه دی ورځم
هېردی کهٔ لږ خراب اؤ ښهٔ دی ورځم
کارهٔ دی نیغ اوکهٔ اوږدهٔ دی ورځم

خو چې نږدې شوم ورته خړې وې
تیار لوګې ور سم لوخړې وې
په چاپېر چل ماحول کښې لړې وې

****

(c) ketabton.com: The Digital Library



طوطه کان
16-12-2000

په موسیدو شی سپین سحر جوړوی
لیمه د یار سپرلی اکثر جوړوی

د خیال خبرې مې زړهٔ چرته منی
ستا په کوڅه کښې راله شر جوړوی

د اسرافیل شپیلۍ به وینښ مې نهٔ کړی
د بنګړو شړنګ به دې محشر جوړوی

ستا د نظر قاتلان نهٔ پوهیږی
ماته سپرلے د دار په سر جوړوی

تهٔ دې د خیشت د زوره څهٔ خبرئې
په زړهٔ مې کربنې ستا نظر جوړوی

د هیریدو طاقت دې نهٔ لرمه
ستا جدائی مې په زړهٔ غر جوړوی

الیاسه زړهٔ له دلاسې دې ورکړه
مینه به داخل ستانه نر جوړوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـهٔ پښـه نیولـې ده حیـرانـه ښکـاری
اُوس پـه خُـلوص خپله ستو مانه ښکاری
اقـرارد میـنــې ئې نـن داسـې اوکـړو
سـائیکـل دې پـرېږده د مـوټر وخت شو

درپسـې کـړل مـې تـهول قـضـا مونځـونـه
هـم مې بـربـادکـړه خپـل اشنـا وختونـه
تـهٔ پـه بلـی بـانـدی را اُونـهٔ ختې
بیـا مـې نـن تیـر د مـازیگـر وخـت شـو

بـچـی بـچـی لـه مـې څپـلـی اخـلـم
د وطـــن پـېـغـلـولــه والـی اخـلـم
چـې د خـوارانـو زړونـــه اوخانـدووم
روژه تـېـرېـږی د اختـر وخــت شـو

داستـا پـه شـانې خـو بې پتـه نـهٔ یم
وهـل بـه خـورم پـه سوك او لتـه نـهٔ یم
زه بـه دې مـرستـه ښـهٔ پـه جـار کومه
چـرتـه کـهٔ ستـاګـلـه د شـر وخـت شو

